# صفة العمرة لابن باز

د عمرې طريقه

عبد العزيز بن عبد الله بن باز

د شيخ عبدالعزيز بن باز رحمه الله له خوا چمتو شوی کوچنی کتاب "صفة العمرة" د عمرې مراسم په روښانه او اسانه ډول تشریح کوي. تر څو د مسلمان لپاره په عاجزی او اسانتیا سره د خپلو مراسمو په ادا کولو کې د عملي لارښود په توګه کار وکړي، سربیره پر دې پکې د هرې مرحلې لپاره مسنونه دعاګانې او اذکار هم راوړل شوي دي.

## د عمرې طريقه

ليکوال

عبد العزيز بن عبد الله بن باز

الحمد لله وحده، وبعد،

دا د عمرې مناسکو ته يوه لنډه کتنه ده چې لوستونکي ته په لاندې ډول بيانيږي:

کله چې د عمرې اراده لرونکی ميقات ته ورسيږي، ورته مستحب دي چې غسل وکړي او ځان پاک کړي، او ښځه به هم همداسې کوي اګر که حيض او يا نفاس هم ولري، خو تر هغه وخته به له بيت الله نه طواف نه کوي چې پاکه شي او غسل وکړي.

سړی کولی شي له کاليو پرته په ځان خوشبويي ولګوي، که يې و نکړای شول چې په ميقات کې غسل وکړي نو باک پرې نشته، او کولی شي چې مکې ته د رسيدو سره له طواف کولو نه مخکې غسل وکړي.

سړی به ځان له ټولو ګنډلو جامو لوڅوي او يو لنګ او څادر به اغوندي، او مستحب دي چې دا لنګ او څادر دواړه سپين او پاک وي.

او ښځه به په خپلو عادي کاليو کې احرام وکړي : (له نقاب، برقې او دستکشو پرته چې دا به لرې کړي او خپل مخ او لاسونه به له نامحرمو نارينه وو څخه په نورو داسې جامو وپوښي) چې زينت او شهرت ونه لري.

بيا به په زړه کې په مناسکو کې د داخليدو نيت وکړي او په ژبه به ووايي: "لبيك عمرة" او يا "اللَّهُمَّ لَبَّيكَ عُمْرَةً " يعنې: ای الله! زه (د عمرې د ادا کولو اراده کوم) يعنې ستا اطاعت، او ستا امر منلو ته چمتو يم. او که د ناروغۍ او يا له دښمن څخه د ويرې له امله يې ډار درلوده چې مناسک به تر سره نه کړای شي، ورته روا دي چې د احرام تړلو پر مهال ووايي:

«فَإِنْ حَبَسَنِي حَابِسٌ، فَمَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي».

«فَإِنْ حَبَسَنِيْ حَابِسٌ فَمَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي» ژباړه: «که چېرته کوم ايسارووونکي ايسار کړم، نو له احرام څخه د خلاصيدو ځای مې هغه دی چېرته چې تا ايسار کړم» دليل يې د ضباعة بنت الزبير رضي الله عنها حديث دی.[1]

بيا به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په تلبيې سره تلبيه ووايي چې داسې ده: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ)، يعنې: «زه حاضر يم اې لويه څښتنه! زه حاضر يم تا لره هيڅ شريک نشته، زه

---

1 د بيهقي السنن الکبری: (١٠١١٧) شمېره.

حاضر يم يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچاهي تا لره ده، تا لره هيڅ شريک نشته». دا تلبيه به ډيره وايي او د الله تعالی ذکر او دعا به کوي تر دې چې کعبې شريفې ته ورسيږي.

«لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكُ، لا شَرِيكَ لَكَ»

«لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكُ، لا شَرِيكَ لَكَ»

«زه حاضر يم اې لويه څښتنه! زه حاضر يم، تا لره هيڅ شريک نشته، زه حاضر يم، يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچاهي تا لره ده، تا لره هيڅ شريک نشته». تر هغه پورې به دا تلبيه او د الله تعالی ذکر زيات کوي تر څو چې کعبې شريفې ته ورسيږي.

(نارينه به يې په لوړ غږ او ښځينه به يې په ټيټ غږ سره وايي لکه څنګه چې صحابه کرامو رضي الله عنهم کول).

کله چې کعبې ته ورسيده تلبيه ويل به پرې کړي، حجر الاسود ته به ورشي، هغې ته به مخ کړي، بيا به يې په ښي لاس سره لمس کړي، او که شوني وه نو مچې دې کړي او خلک به په ګڼې ګوڼې جوړولو نه ازاروي، او د لمس کولو پر مهال دې "بِبِسْمِ اللهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ " ووايي، که مچې کول ورته ستونزمن و، په لاس، امسا او يا بل څه سره دې لمس کړي، او که لمس کول يې ستونزمن و د "اَللّٰهُ أَكْبَرُ" په ويلو سره دې ورته اشاره وکړي.

د طواف د صحت لپاره شرط دا دی چې طواف کوونکی له وړې او غټې بې اودسۍ څخه پاک وي؛ ځکه چې طواف لکه د لمانځه په څېر دی، پرته لدې چې خبرې په کې کیږي.

کعبه شریفه به کیڼ لوري ته کړي او اووه ځلې به ترې طواف وکړي، کله چې یماني رکن ته ورسیږي، نو که شونې وه په ښي لاس سره به یې لمس کړي او "بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ" به ووایي او مچې کوي به یې نه، که لمسول یې ورته ستونزمن و، همداسې به یې پرېږدي او طواف ته به ادامه ورکړي؛ نه به ورته اشاره کوي او نه به تکبیر وایي، ځکه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت نه دي.

او هر ځل چې له حجر الاسود څخه تېرېده نو لمسوي او ښکلوي به یې لکه مخکې مو چې وویل، که نه په تکبیر ویلو سره به ورته اشاره کوي. همدا رنګه رمل کول ورته مستحب دي - یعنې په چټکۍ سره نږدې ګامونه اخېستل- البته د طواف القدوم په لومړیو درې ګردشونو کې، او دا کار یوازې د سړیو لپاره دی. او په ځانګړې توګه د نارینه وو لپاره د قدوم د طواف په دریو لومړیو چکرونو کې لنډ لنډ چټک مزل کول مستحب دي.

همدارنګه د سړیو لپاره د قدوم د طواف په ټولو ګردشونو کې اضطباع مستحب ده، اضطباع دې ته وایي چې د څادر منځ د ښي تخرګ لاندې تېر کړي او دواړه پیڅکې په چپه اوږه واچوي. او اضْطِباع:(دې ته وایي) چې د څادر منځنۍ برخه د ښي تخرګ لاندې کړي او دواړه پیڅکې یې په چپه اوږه راواړوي.

په ټولو ګردشونو کې د امکان تر حده ډېر ذکر او دعا ویل مستحب دي.

د طواف لپاره ځانګړې دعا او یا ذکر نشته، بلکې هره دعا او ذکر چې ورته آسان وو هغه به کوي او د دواړو رکنونو تر منځ به وايي:

﴿...رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

ژباړه: (ای زمونږ ربه مونږ ته په دنیا کې نعمت راکړه او په اخرت کې هم نعمت راکړه او د اور له عذابه مو وساته) [البقرة سورت: ۲۰۱ ایت] . په هر ګردش کې دې دا دعا ووايي، ځکه چې دا له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت ده.

او اوم ګردش به که شوني وه د حجر الأسود په لمسولو او مچې کولو، یا له تکبیر سره ورته اشارې کولو سره پای ته رسوي، لکه څنګه یې چې تفصیل وړاندې تېر شو. کله چې له دې طواف څخه فارغ شو، نو خپل څادر دې سم کړي او دواړه پیڅکې دې په سینه راوځړوي.

بیا که شوني وه د مقام ابراهیم شاته دوه رکعته لمونځ کوي، که هلته یې ونه کړای شول نو د جومات په هر ځای کې یې کولی شي. په دواړو کې به له فاتحې وروسته: (قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ) په لومړي رکعت او (قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ) په دویم رکعت کې لولي، دا غوره ده او که لدې پرته یې نور سورتونه وویل

باک نه لري، بیا له دوه رکعته لمونځ وروسته یې که کولی شول حجر الاسود ته دې ورشي.

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ 1﴾

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١﴾

(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه چې: ای کافرانو! [الکافرون: ١ ایت] په لومړي رکعت کې، او

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ 1﴾

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾

(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی. [الإخلاص سورت: ١ایت] په دویم رکعت کې، چې دا غوره ده، او که له دې پرته یې بل سورت ولوست هم باک نه لري، بیا چې کله له دوو رکعتونو سلام وګرځوي نو که شوني وه حجر الأسود ته ورځي او په بنی لاس سره یې لمس کوي. د طواف له دوو رکعتونو وروسته که شوني وه زمزم اوبه څښل سنت دي.

بیا صفا ته وروځي، ورخیژي او یا یې تر څنګه ودرېږي، خو که شوني وه ختل غوره دي او دا (آیت) لولي.

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ... ﴾

﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ..﴾

(یقینًا صفا او مروه د الله له نښو څخه دي ..). [البقرة سورت: 158 ایت].

دا مستحب دي چې قبلې ته مخ کړي د الله ستاینه ادا کړي، تکبیر ووایي او دا ذکر ووایي: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللّهُ وَاللّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ

إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ).

«له الله پرته بل په حقه معبود نشته، او الله تر ټولو لوی ذات دی، له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه یو دی هیڅ شریک نه لري، هغه لره پاچاهي او ټولې ثناوې دي او هغه پر هر څه قادر دی، نشته دی لایق د عبادت مګر یوازې هغه دی، الله خپله وعده پوره کړه او د خپل بنده مدد یې وکړ او په تنهايي سره یې احزابو او ډلو ته ماتې ورکړه». بیا چې ورته کومه دعا اسانه وه، لاسونه دې پورته کړي او ودې کړي، او دا (پورته) ذکر درې ځلې تکراروي.

"اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ" [2]،

"اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ"،

الله تر ټولو لوی دی، الله تر ټولو لوی دی، له الله پرته په حقه سره بل معبود نشته، الله تر ټولو لوی دی، الله تر ټولو لوی دی او الله لره ستاینه ده، له الله پرته په حقه بل معبود نشته، هغه یو دی او شریک نه لري، هغه لره پادشاهي ده، هغه لره ستاینه ده او هغه پر هر څه څواکمن دی، له الله پرته په حقه بل معبود

نشته، هغه یو دی، خپله ژمنه یې تر سره کړه او خپل بنده ته یې بریا ورکړه او په یوازې ځان یې لښکرې ماتې کړې،[1] او په اسانه دعاګانو سره دعا کوي، بیا هغه اذکار او دعاګانې درې ځلې تکراروي، همدا هغه سنت طریقه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې ده، او (مخ به یې) قبلې لور ته وي. بیا راکوزیږي او مروا ته ځي تر دې چې لومړی نښې ته ورسیږي؛ نو نارینه مزل چټکوي تر دې چې دویمې نښې ته ورسیږي (اوسمهال شنه څراغونه).

او د ښځې لپاره ګړندي کېدل نشته؛ ځکه چې هغه عورت ده، بیا مزل کوي تر دې چې مروا ته وخیږي او یا ورسره ودریږي او که شونې وه نو ختل غوره دي او هغه څه به وایي او کوي چې په صفا یې کړي و. بیا راکوزیږي نو د قدم په ځای کې قدم وهي او د ګړندي کېدو په ځای کې ګړندی کیږي تر دې چې صفا ته ورسیږي. په اوو ګردشونو کې د تګ او راتګ پر مهال همداسې کوي چې تګ یې یو ګردش او راتګ یې بل ګردش حسابیږي، او که په سپرلۍ یې سعې وکړه نو باک پرې نشته، په ځانګړې توګه که اړتیا وه. او چا چې په سپرلۍ سعی وکړه نو باک نه لري، په ځانګړې توګه د اړتیا پر مهال، او مستحب دي چې په سعی کې ذکر او آسانه دعاګانې وکړي، په داسې حال کې چې له لوی او وړې بې اودسۍ څخه پاک وي.

او مستحب دي چې د سعې پر مهال زیات ذکر او ورته آسانه دعاګانې وکړي. او دا چې د وړې او لویې بې اودسۍ

---

1 مسلم په: (۱۲۱۸) شمېره روایت کړی دی.

څخه پاک وي، او که له طهارت پرته يې سعې وکړه هم صحيح ده.

کله يې چې سعې بشپړه کړه خپل ويښتان خروي او يا يې کموي او خرول غوره دي، او که چېرته يې مکې ته راتلل حج ته په نږدې وخت کې و نو د ويښتانو کمول ورته غوره دي، تر څو پاتې ويښتان په حج کې وخروي. او ښځه به خپل ويښتان موټې کړي او د ګوتې د يو بند په اندازه به ترې واخلي، نو کله چې محرم ياد کارونه تر سره کړل عمره يې بشپړه شوه، الحمد لله، او هر هغه څه ورته روا شول چې د احرام له امله پرې حرام شوي و. ( د عمرې په پاې کې رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه رکعته لمونځ نه دی کړی، نو که څوک ورسره مينه لري د هغه په څېر عمل دې وکړي).

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا 21﴾

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا 21﴾

(بېشکه ستاسې لپاره د رسول الله په تابعدارۍ کې ښائسته پيروي شته، خصوصا هغه چا لپاره چې د الله او د آخرت د ورځې هيله لري او الله ډېر يادوي). [الأحزاب سورت: 21 ايت].

الله تعالى دې موږ او زموږ ټولو مسلمانانو ورونو ته په دين کې پوهه او ثبات ورکړي، او له ټولو دې قبول کړي، هغه سپېڅلی سخي ذات دی.

وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلَى عَبْدِهِ وَرَسُوْلِهِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَأَتْبَاعِهِ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ.

د عمرې د مناسکو په اړه (دا لنډه لیکنه) د مهربان شیخ له دفتر څخه په 1416/2/13هـ کې په (مجموع فتاوی ومقالات الشیخ ابن باز 17/ 425) کې صادره شوې ده.

فهرست

د عمرې طریقه..................................................................2

ps405v2.0 - 06/09/2026